جرگه قومی اتحاد
Jarga National Unity Org

# منـــشــور

(وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِب الْمُحْسِنِينَ). [البقرة:195]

نسخه نمبر 2.1

تاریخی نشر 2025-01-01

# فهرست


| بند | موضوع | صفحہ نمبر |
|---|---|---|
| 1 | پیژندنه | 4 |
| 1.1 | پرانیستونکې وینا | 4 |
| 1.2 | تعارف | 4 |
| 1.2.1 | سوچ | 4 |
| 1.2.2 | مقاصد | 4 |
| 1.2.3 | جرگه | 4 |
| 1.2.4 | نوعیت | 4 |
| 1.3 | نظام | 4 |
| 1.3.1 | ده نظام نوعیت | 4 |
| 1.3.2 | مالی نظام | 4 |
| 1.3.3 | حادثاتی نظام | 4 |
| 2 | رکنیت | 5 |
| 2.1 | رکنیتی نظام | 5 |
| 2.1.1 | ده رکنیت حاصلولو طریقه کار | 5 |
| 2.1.2 | ده رکنیت فیس | 5 |
| 2.1.3 | ده رکنیت شرائط | 5 |
| 3 | حادثات | 5 - 8 |
| 4 | اهلیت | 8 |
| 4.1 | په دغه صورتونو کی به رکن ده مرستی اهل وی | 8 |
| 4.2 | په دغه صورتونو کی به رکن ده مرستی اهل نه وی | 8 |
| 5 | مشران | 9 |
| 5.1 | سپریم کونسل | 9 |
| 5.1.1 | ده سپریم کونسل صلاحیتونه | 9 |
| 5.1.2 | ده سپریم کونسل زمه داریانی | 9 |
| 5.1.3 | ده سپریم کونسل ده ممبر استعفی | 9 |
| 5.1.4 | ده سپریم کونسل خلاف عدم اعتماد | 9 |

## فهرست


| بند | موضوع | صفحة نمبرر |
|---|---|---|
| 5.2 | مرکزي مشران | 10 |
| 5.2.1 | ده مرکزي مشرانو صلاحیتونه | 10 |
| 5.2.2 | ده مرکزي مشرانو زمه داریانی | 10 |
| 5.2.3 | ده مرکزي مشر استعفی | 10 |
| 5.3 | مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټی | 10 |
| 5.3.1 | ده مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټی مشران | 10 |
| 5.3.2 | ده مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټی مشرانو زمه داري | 10 |
| 5.4 | ده ریجن مشران | 11 |
| 5.4.2 | ده ریجن ده مشرانو زمه داریانی | 11 |
| 6 | فایلونه | 11 |
| 6.1 | فایل | 11 |
| 6.2 | ده فایل مشران | 11 |
| 6.3 | ده فایل ده مشر زمه داریانی | 11 |
| 6.4 | ده فایل درج کولو طریقه کار | 12 |
| 6.5 | ده فایل درج کولو شرائط | 12 |
| 7 | مالي نظم و ظبط | 12 |
| 7.1 | چنده | 12 |
| 7.1.1 | ده چندی تاخیر کولو جرمانه | 12 |
| 7.1.2 | ده چندی فرقونه | 12 |
| 7.1.3 | ده چندی ډیټیل | 12 |
| 7.2 | رکنیتی فیس (اینټری فیس) | 12 |
| 7.2.1 | ده رکنیتی فیس فرقونه | 12 |
| 7.3 | مالي مرکز | 13 |
| 7.4 | ده حق ضیاع | 13 |

## فهرست


| بند | موضوع | صفحة نمبرر |
|---|---|---|
| 8 | إداري نظم و ظبط | 13 |
| 8.1 | إداري زمه دار | 13 |
| 8.2 | نوټيفيکيشن | 13 |
| 9 | حادثاتي نظم و ظبط | 14 |
| 9.1 | ده حادثی ده جمع کولو طریقه کار | 14 |
| 10 | منشور | 14 |
| 10.1 | ده منشور تعریف | 14 |
| 10.2 | ده منشور حيثيت | 14 |
| 10.3 | ده منشور نسخات | 14 |
| 10.4 | ده منشور خلاف ورزی | 14 |
| 10.5 | ده منشور ترميم | 14 |
| 10.6 | ده ترميم شرائط | 14 |
| 11 | باني | 15 |
| 11.1 | ده جرگه قومی اتحاد بانی | 15 |
| 12 | حادثاتی نقشه | 16 |

# پیژندنه

## پرانیستونکې وینا :

بسم الله الرحمن الرحیم

شورو ده هغه زات په نوم سره چی بخښونکی مهربانه دی ، شورو ده هغه زات په نوم سره چی ده زری زری حساب اخستونکی دی، شورو ده هغه زات په نوم سره چی ده کائناتو مالک دی؛ درود و سلام په خاتم النبیین محمد الرسول الله صلی الله علیه وسلم.

## تعارف:

### سوچ:

په داسی فضاء کی چی هر نفس نفسی نفسی وو ، په داسی ماحول کی چی هر طرف ته قومیت وو، یو سوچ راوړو مشر محمد اقبال چی ولی نه چی یو شو، ولی نه چی ده یو بل پکار شو، ولی نه چی ده غریب مرستیال شو، ولی نه چی ده یتیم کفالت اوکړو؛ دغه سوچ مشر محمد اقبال په خپل سنگ کی موجود مشرانو سره شریک کړو، او ده مشرانو ده همت په نتیجه په کال 2020 جولای میاشت او 5 تاریخ ورز ده اتوار اول فایل او اول رکن رجسټر کړی شو کوم چی مشر عمر خان عرف عمرین ده جدی نه وو.

### مقاصد:

ده دغه کاروان مقصد ده بی وسه مسافر مرسته کول وو، چونکی په سعودی عرب کی په ډیر زیات شمېر سره داسی تړونونه موجود وو خو په دغه تړونونو کی شفافیت نه وو په دغه تړونونو کی انصاف نه وو ده جرگه قومی اتحاد مقصد ده یو شفاف او منظم تړون قیام وو.

### جرگه:

دغه کاروان ته ده مشر محمد اقبال ده اړخه جرگه نوم ورکړی شو، چونکی جرگه ده پوښتنو یو تاریخی دستور دی او مقصد یی صلحه کول وی؛ په جرگه پسی قومی لفظ منتخب شو ده کوم مقصد چی ده مختلف قبایلو او قومونو تړون دی، په جرگه قومی پسی ده اتحاد لفظ انتخاب اوشو ده کوم مطلب چی ده دغه قومونو او قبایلو ده کاری خیر ده پاره اتفاق او اتحاد دی.

### نوعیت:

جرگه قومی اتحاد یو فلاحی غیر ربحی (Non-Profit Organization) تړون دی، جرگه قومی اتحاد یو غیر سیاسی غیر قومی تړون دی؛ جرگه قومی اتحاد ده سه قسمه سیاسی یا دینی یا مذهبی تنظیمونو سره سه قسمه تعلق نه لری؛ جرگه قومی اتحاد په یو مشر یا په یو سو مشرانو محدود نه دی ، جرگه قومی اتحاد یو خود مختاره واضح نظم ظبط او منشور لرونکی کاروان دی.

## نظام :

### ده نظام نوعیت:

ده جرگه قومی اتحاد نظام رکنیتی نظام دی کوم چی په داخلی چندی قائم دی؛ جرگه قومی اتحاد ده بهرنیو تنظیمونو نه او ده داسی افرادو نه چی هغه ده جرگه قومی اتحاد رکن نه وی ده هغی نه سه قسمه امداد نه حاصلوي، ده جرگه قومی اتحاد مالی نظام په کامل توگه په داخلی رکنیتی امداد محدود دی.

### مالی نظام:

ده جرگه قومی اتحاد مالی نظام ده ارکانو په چنده محدود دی، ده ضرورت مطابق ده مرکز ده طرف نه ده چندی اعلان کیگی.

### حادثاتی نظام:

ده جرگه قومی اتحاد مرسته ده جرگی په ارکانو محدود ده؛ جرگه قومی اتحاد په منشور کی موجود حادثاتو مطابق مرسته کوی.

# رکنیت

## رکنیتی نظام:

### ده رکنیت حاصلولو طریقه کار:

ده جرګه قومی اتحاد رکنیتی نظام ده ډلو په شکل کی قائم دی, هره ډله ده جرګه قومی اتحاد سره رجسټر فایل لری، ده دغه فایل یو سربراه وی کوم چی ده دغه ډلی ده ممبرانو ده امورو زمه دار وی، په جرګه قومی اتحاد کی فردی رکنیت اخستل نه شته، یا به خپل نوی فایل رجسټر کوی او یا به په جرګه قومی اتحاد کی موجود یو فایل کی رکنیت اخلی کوم چی به ده هغه فایل ده سربراه په زریعه حاصل کیګی.

### ده رکنیت فیس:

په جرګه قومی اتحاد کی ده رکنیت اخستلو 50 ریاله فیس دی کوم چی به دغه رکن ده خپل فایل سربراه ته آداء کوی.

### ده رکنیت شرائط:

ده جرګه قومی اتحاد ده رکنیت اخستلو شرائط شپږ دي:

1) اول: چی په صحت برابر وی ده سه قسمه بیماری شکار نه وی یا په هسپتال کی داخل نه وی.
2) دوهم: چی ده چندی نهورکولو په وجه یا ده یو جرم ده ارتکاب په بنیاد ده جرګه قومی اتحاد نه ریمو شوی نه وی.
3) دریم: چی ده خیبرپښتونخوا سره تعلق لري.
4) څلورم: چی ممبر پا کامل توګه په منشور پوهه وی او ده منشور مطالعه یی کړی وی.
5) پنځم: چی ممبر ده مزدوری ده پاره سعودی عرب ته راغلی وی؛ په ویزټ یا په عمره نه وی.
6) شپږم: چی ممبر نارینه وی.

# حادثات

## شق نمبر 1 :

که ده جرګی ممبر وفات شپ نو په دهغه صورت کی به جرګه وفات شوې ممبر ده پاره ده (70,000) ریال چندی کولو پابند وې، په دې (70,000)ریال کی به (20,000) ریال په سعودې عرب کی ده خرچی ده پاره مختص وي, او (50,000) ریال به ده وفات شوې ممبر حقیقي او شرعي وارث ته میلاوګي.

## شق نمبر 2 :

که ده جرګی ده ممبر ملا مکمل ماته شی او ممبر په کټ پریوزی نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته ده (70,000) ریال اداء کولو پابند وې او که چرې ده ممبر ده ملا یو ډسک کریک شی نو په دهغه صورت کی به ممبر ده (10؛000) ریال حقدار وی او که ده ممبر ده ملا هغه هډوکي مات شی کوم چې ده ملا نه پختوو طرف ته تلي نو په دهغه صورت کی به ده (5،000) ریال حقدار وی خو ده تفصیل ده پاره به ډایګرام ګوری.

## شق نمبر 3 :

که ده جرګی ده ممبر سټ کریک شې نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته ده (10,000) ریال اداء کولو پابند وې او که سټ چورلټ مات وې نو بیا به متاثره ممبر ته (35,000) ریال اداء کیږی.

## شق نمبر 4 :

که ده جرګی ده ممبر دواړه سترګی ضائع شي یعنی مکمل ړندی شې نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته ده (50,000) ریال اداء کولو پابند وې او که چیرته یوه سترګه ضائع شی یا مکمل ړنده شې په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته (25,000) ریال اداء کولو پابند وې.

## حادثات

### شق نمبر 5 :

که ده جرګی ده ممبر دواړه لاسونه یا دواړه خپې مکمل کټ شې نو په دهغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته ده (50,000) ریال اداء کولو پابند وي او که یو لاس یا یوه خپه کټ شی نو په دهغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته ده (25,000) ریال اداء کولو پابند وې نوټ :- که چرته ممبر په 6 میاشتو کی دننه وفات شي نو ده دواړه لاسونه یا دواړه خپی کټ حادثی رقم (50,000) ریال به تی کټ کیږي.

### شق نمبر 6 :

که ده جرګی ممبر ته ده فالج اټیک اوشي او ده هغه 100% جسم متاثره شی نو هغه ته به جرګه (40,000) هزار ریال ورکولو پابند وي، او که چرته 50% جسم متاثره شي نو جرګه به ممبر ته (20,000) ریال آداء کوي، او که 25% جسم متاثره شي نو جرګه به متاثره ممبر ته (10,000)ریال آداء کوي نوټ :- که چرته ممبر په 6 میاشتو کی دننه وفات شي نو ده 100% جسم فالج حادثی رقم (40,000) ریال به تی کټ کیږي.

### شق نمبر 7 :

که ده جرګی ده ممبر ده زړه آپریشن وشی (اوپن هارټ سرجرې) په کوم کې چې سینه کټ کړی شې نو په دهغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته ده (30,000) ریال اداء کولو پابند وې او که چرته ده ممبر Angioplasty آپریشن وشي او ده هغه یو رګ ته سپرنګ ولګي،نو متعلقه ممبر ته به (5,000) ریال آدا کیګي،او که په دوه رګونوو کي سپرنګ ولګي نو ممبر ته به (10,000) ریال آدا کیګي، نوټ :- که چرته ممبر په 6 میاشتو کی دننه وفات شي نو ده زړه (اوپن هارټ سرجرې) آپریشن حادثی رقم (30,000) ریال به تی کټ کیږي.

### شق نمبر 8 :

که ده جرګی ده ممبر لاس مات شې یا ده ټوټې نه واخله تر ده خپی ده پنجی پوری خپه ماته شې ( که آپریشن یې وشې او که هسې یې پیوند کې ) نو په دهغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته ده (10,000) ریال اداء کولو پابند وې او که چرته اوګه ماته شي نو په دغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته (10,000) ریال اداء کولو پابند وی.

### شق نمبر 9 :

که ده جرګی ده ممبر دواړه خپی یا دواړه لاسونه یا یو لاس یوه خپه په یو زاې مات شې او ده پیوند کاری ده پاره یې آپریشن وشې راډ وغیره پکې ولګی نو په دهغه صورت کې به جرګه متاثره ممبر ته ده (20,000) ریال اداء کولو پابند وې.

### شق نمبر 10 :

که ده جرګی ده ممبر ده لاس ده مړوند نه واخله تر اوګی پوری یو هډوکی مات شې کوم ته چې ډاکټرې زبان کی کریک وئیل کیګې او ده خپی ده پنجی نه واخله تر ټوټې پوری یو هډوکی مات شې نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته ده (5,000) ریال ورکولو پابند وې.

### شق نمبر 11 :

که ده جرګی ده ممبر آرنې آپریشن وشې یا ده بواسیر آپریشن وشې نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته ده (5,000) ریال ورکولو پابند وې او که چرته ده ممبر ده تریخي آپریشن اوشی که ده لیزر په زریعه وی نو متاثره ممبر ته به (5،000) ریال آدا کیګی؛ او که اوپن آپریشن وی نو متاثره ممبر ته به (10،000) ریال آدا کیګی.

## حادثات

### شق نمبر 12 :

که د جرګی د ممبر دواړه ګردی کار پریږدی او مریض د ( واش ډایلایسز ) محتاج شي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته د (50,000) ریال اداء کولو پابند وي او که چری د مریض یوه ګرده ناکاره شي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته د (15,000) ریال ورکولو پابند وي او که د ګردی د کاڼي د پاره سرجري اوکړي که د لیزر په زریعه وی نو متاثره ممبر ته به (5،000) ریال آدا کیګی؛ او که اوپن آپریشن وی نو متاثره ممبر ته به (10،000) ریال آدا کیګی؛ نوټ :- که چرته ممبر په 6 میاشتو کی دننه وفات شي نو د دواړه ګردو کار پریښودو حادثی رقم (50,000) ریال به تی کټ کیږي.

### شق نمبر 13 :

که د جرګی د ممبر 25% نه تر 50% پوری جسم مکمل وسوزي ( یعنی سلورمه حصه یا نیم جسم ) نو په دهغه صورت کی به تنظیم متاثره ممبر ته د (10,000) ریال ورکولو پابند وی او که د 50% نه تر 75% پوری جسم وسوزي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته د (25,000) ریال اداء کولو پابند وي.

### شق نمبر 14 :

که د جرګی د ممبر د لاس د مړوند نه واخله تر د ګوتو د سر پوری هډوکی مات شي او یا د خپی د پنجه نه واخله تر د ګوتو د سر پوری هډوکی مات شي نو في هډوکی به متاثره ممبر ته جرګه د (2,000) ریال آداء کولو پابند وی نوټ:-
هډوکی که د لاس د پنجه وي اوکه د ګوتی او که د خپی د پنجی وي او که د ګوتی؛ باستثناء د ګوتو د اول بند نه چې هغه به پکی شامل نه وی.

### شق نمبر 15 :

که د جرګی د ممبر د لاس یا د خپی د ګوتی اول بند کټ شي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته پې ګوته (2,000) ریال ورکولو پابند وي که چرته د دوه ګوتو اول بندونه کټ شو نو بیا (4,000) ریال او هم داسې په برا که چرته د ګوتی دوه بندونه کټ شي یا مکمل ګوته کټ شي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته پې ګوته (5,000) ریال ورکولو پابند وی که چرته د دوه ګوتو دوه بندونه یا مکمل کټ شی نو بیا (10,000) ریال او هم داسی په برا.

### شق نمبر 16 :

که د جرګی د ممبر آپینډکس آپریشن وشي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته د (6,000) ریال ورکولو پابند وي په شرط د دی چی د ممبر جرګه کی 15 ورځې پوره شوی وي.

### شق نمبر 17 :

که د جرګی د ممبر د خولی جامی ماتی شي یا یې آپریشن وشي نو په دهغه صورت کی به جرګه متاثره ممبر ته د (12,000) ریال اداء کولو پابند وي، آؤ که چری د مخ د تندي نه لاندی د مخ په هډوکو کي هډوکی مات شي، نو په دهغه صورت کي به متاثره ممبر ته (6,000) ریال آدا کیګي.

### شق نمبر 18 :

که د جرګی د ممبر 1 پوښتی ماته شی نو جرګه به متاثره ممبر ته د (1,000) ریال آداء کولو پابند وي, او که 2 پوښتی ماتي شی نو  (2,000)ریال او که د 3 نه تر 6 پوری پوښتی ماتی شی نو جرګه به متاثره ممبر ته د (5,000) ریال آداء کولو پابند وي او که 7 نه تر  12پوری پوښتی ماتی شی نو جرګه به متاثره ممبر ته د (10,000) ریال آداء کولو پابند وي.

### شق نمبر 19 :

که د جرګی ممبر د سر آپریشن اوکی په کوم کی چی د سر کوپړی ټوټل کولاو کی نو په دغ صورت کی به تنظیم متاثره ممبر ته د (25,000) ریال اداء کولو پابند وي او که د سر د ریسولی لیزر آپریشن او یا د سینی د ریسولی آپریشن اوکی نو جرګه به متاثره ممبر ته (10,000) ریال آداء کولو پابند وي؛ نوټ :- که چرته ممبر په 6 میاشتو کی دننه وفات شي نو د سر آپریشن (25,000) ریال به تی کټ کیږي.

## حادثات

### شق نمبر 20 :

که ده جرګی ممبر مکمل کومی ته لاړ شی او هغه ده جرګی سره ده بل سه حادثی حقدار نه وی نو دغی ممبر ته به (2،000) ریال میاشت ورکړی کیګی تر سو پوری چی هغه ده کومی نه واپس نه شی, او که یو ممبر په هسپتال کی داخل شی او هم دغه سی ده جرګی سره ده بل سه حادثی حقدار نه وی او په هسپتال کی یی یوه میاشت پوره شی نو په دهغه صورت کی به متاثره ممبر ته ده میاشتی (1،000) ریال آدا کیګی.

## اهلیت

### په دغه صورتونو کی به رکن ده مرستی اهل  وی:

1) که رکن په چټی یا په نهائي خروج وی نو ده دغه مخصوص حادثاتو اهل به وی ( مرګ ، ملامات ، سټ مات ، دواړه لاس یا دواړه خپی کټ ، دواړه سترګې ړندې ، پوره جسم فالج , زړه اوپن هارټ سرجرې )؛ ده دغه حادثاتو نه بغیر به رکن ده سه قسمه مرستی اهل نه وی.

### په دغه صورتونو کی به رکن ده مرستی اهل نه وی:

1) که ده ده رکنیتی نظام خلاف ورزی یی کړی وه په دغه صورت کی به رکن ده سه قسمه مرستی اهل نه وی.

2) که رکن ته داسی حادثه پیخه شوه چی هغه ده جرګه قومی اتحاد په منشور کی ده حادثاتو په شقونو کی په واضح الفاظو موجود نه وه.

3) که رکن پاکستان ته په نهائی خروج لاړو او ده رکنیت یی 3 میاشتی نه وی پوره شوی په دغه صورت کی به دغه رکن په پاکستان کی ده سه قسمه مرستی اهل نه وی، او ده فایل نه به ریمو کیګی.

4) که رکن پاکستان ته په چټی لاړو او ده رکنیت یی 1 میاشت نه وه پوره شوی په دغه صورت کی به رکن په پاکستان کی ده سه قسمه مرستی اهل نه وی، په فایل کی رجسټړ پاتی کیدی شی خو چنده به پسی نه رازی او ده مرستی مستحق به نه وی.

5) سعودی عرب زمونږ ده دویم کور حیثیت لری, ده دی قانون زمونږ ده پاره ده احترام وړ دی, که چری ده جرګی ممبر په غیر قانوني سرګرمی کی ملوث خکاره شی یا په دی کی ممبر ته زیان ورسی نو په دهغه صورت کی به جرګه ده هر قسم مرستی نه استثناء وی یعنی ده مجرم ممبر به هس قسم مرسته نه شی کیدی.

6) که ده فایل مشر خپل فایل کی نوی ممبر ایډ کې نو ده هغی ممبر صرف آپنډکس کیس به ده (15) ورځو نه بعد قابل قبول وي, باقي کیسونه به ده ایډ کیدو ده ورځ نه قابل قبول وې.

## مشران

### سپریم کونسل:

**ده سپریم کونسل صلاحیتونه:**

1) سپریم کونسل په کامل توګه ده مرکزی کابینی ده تعیینات اختیار لری؛ بشرط چی په اختیار کی یی الله عزوجل ته غاړه آزاده وی سه قسمه قوم پرستی او شخصی مفاد او شخصی نالګی یا دښمنی پکی شامل نه وی.
2) سپریم کونسل ته په کامل توګه اختیار حاصل دی چی هغه ده کاروان تمام امور په نظر کی اوساتی.

**ده سپریم کونسل زمه داریانی:**

1) په داسی صورت کی چی مرکز ته یو داسی مسله راشی چی ده مرکز ده مشرانو اتفاق پری نه رازی په دغه صورت کی به فورا سپریم کونسل دغه مسله په خپل اختیار کی اخلی او ده دغی مسلی حل او فیصله به په 3 ورزو کی دننه اوروی.
2) په داسی صورت کی چی ده مرکز ده مشرانو مابین اختلاف راشی یا دغه اختلاف شخصی مفادُ کی بدل شی یا ده مرکزی مشرانو مابین بدکلامی اوشی یا ده مرکزی مشرانو ما بین قوم پرستی اوشی ده سپریم کونسل مشران به فورا په دغه اختلاف کی ملوث مشرانو نه لنډ مهاله ده عهدی اختیارات اخلی او په 3 ورزو کی دننه به ده دغه مرکزی مشرانو صلحه کوی، ده جرم ده نوعیت په رڼا کی سپریم کونسل ته دا حق حاصل دی چی دغه مرکزی مشر ده عهدی نه فارغ کی.
3) سپریم کونسل به په مرکزی مشرانو نظر ساتی ، که چرته یو مرکزی مشر ده عهدی مطابق خپله زمه داری سر انجام نه ورکی یا ده دغه عهدی لائق نه وی او نو چونکی دغه ده دی کاروان تاوان دی، سپریم کونسل به فورا هغه مشر ده عهدی نه فارغ کوی، او په 3 وروزو کی دننه به ده دغه عهدی ده پاره مشر ټاکی.
4) سپریم کونسل به ده مرکزی مشرانو انتخاب په معیار کوی، ده مشر انتخاب به ده عهدی مطابق په تعلیمی او تجریبی معیار کوی.
5) سپریم کونسل به هر هغه خبره او مسله حل کوی کومه چی ده جرګه قومی اتحاد په منشور کی په واضح الفاظو موجود نه وی؛ چی په فیصله کی یی الله عزوجل ته غاړه آزاده وی شخصی مفاد او نالګی پکی شامل نه وی.

**ده سپریم کونسل ده ممبر استعفی:**

که چرته ده سپریم کونسل یو ممبر ده سه وجوهاتو په بنیاد خپله استعفا جمع کړه؛ په یوه هفته کی دننه به ده دغه عهدی ده پاره ده مشر تعیینات کمیټی جوړیږی، په دغه کمیټی کی به شرط وی چی ده کاروان ده 50% ریجنونو نمایندګان شامل وی ده هر ریجن نه به 1 نمایندہ وی چی دغه نمایندہ جید وی په تعلیمی او تجریبی معیار چی قوم پرست او مفاد پرست نه وی، ضدی نه وی، په دغه کمیټی کی به ده مرکزی مشرانو موجودګی لازم وی، ده کمیټی جوړیدو نه پس به دغه کمیټی په 7 ورزو کی دننه په متفقه طور ده دغه مستعفی عهدی مشر انتخاب کوی.

**ده سپریم کونسل خلاف عدم اعتماد:**

ده سپریم کونسل خلاف عدم اعتماد کمیټی ده پاره به شرط وی چی ده کاروان 50% ریجنونو نمایندګان پکی شامل وی ده هر یو ریجن نه 1 نمایندہ او ورسره 50% مرکزی مشران، که چرته دغه عدم اعتماد کمیټی په دغه ډول جوړه شی نو په دغه صورت کی به سپریم کونسل مات وی او دغه عدم اعتماد کمیټی او ورسره تمام مرکزی مشران به په 7 ورزو کی دننه ده سپریم کونسل ده پاره مشران ټاکی شرط به دا وی چی ټاکنه کی یی غاړه الله عزوجل ته آزاده وی سه قسمه قوم پرستی یا شخصی مفاد یا شخصی نا لګی یا دښمنی پکی شامل نه وی.

# مشران

## مرکزي مشران:

### ده مرکزي مشرانو صلاحیتونه:

1) مرکزي مشران په کامل توګه ده ریجن کابینې ده تعیینات اختیار لرې؛ بشرط چې په اختیار کې یې الله عزوجل ته غاړه آزاده وي سه قسمه قوم پرستي او شخصي مفاد او ناګلي يا دښمنې پکې شامل نه وي.

2) مرکزي مشرانو ته په کامل توګه اختیار حاصل دی چې ده ریجنونو په امورو او ورسره ده ممبرانو او حادثاتو او فاینانس په امورو نظر اوساتي.

### ده مرکزي مشرانو زمه دارياني:

1) مرکزي مشران به په تمام ریجنونو نظر ساتي، که په ریجن کې سه قسمه متنازعه مسله پیښه شي، فورا به مرکزي مشران دغه مسله په اختیار کې اخلي او ده منشور تحت فیصله به کوي.

2) مرکزي مشران به په حادثاتو په کامل توګه نظر ساتي، ده حادثاتو ده تفتیش کمیټې به ده مرکزي مشرانو ده نظر لاندې وي.

3) مرکزي مشران به ده فاینانس په امورو په کامل توګه نظر ساتي، ده چندې اعلان نه واخله تر چندې جمع کولو او متاثره ممبرانو ته ده رسولو پورې به ده مرکزي مشرانو ده نظر لاندې وي.

### ده مرکزي مشر استعفی:

1) که چرته یو مرکزي مشر ده سه وجوهاتو په پنیاد خپله استعفا جمع کړه؛ په دغه صورت کې به سپریم کونسل په 3 ورزو کې دننه ده مستعفي عهدې ده پاره ده مشر انتخاب کوي.

## مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټۍ:

### ده مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټۍ مشران:

1) محمد خان سپینډا

2) بهترین خان

3) انجنیر حامد علی هاشم

### ده مرکزي حادثاتي تفتیشي کمیټۍ مشرانو زمه داري:

ده مرکز حادثاتي تفتیشي کمیټې مشران به ده حادثاتو ده تفتیش او تحقیق زمه دار وي، دغه مشران به ده حادثې په صورت کې ده حادثې تفتیش او تحقیق په 24 ګنټو کې دننه کوي او فیصله به پرې اوروي؛ دغه مشران به ده منشور تحت فیصله کوي او چې فیصله کې یې الله عزوجل ته غاړه آزاده وي سه قسمه قوم پرستي یا شخصي مفاد یا شخصي نا لګې او نا انصافي پکې شامل نه وي.

## مشران

### ده ریجن مشران:

**ده ریجن مشران:**

په هر ریجن کی به ده ضرورت مطابق مشران وی.

**ده ریجن ده مشرانو زمه داریانی:**

1) ده ریجن مشران به ده ریجن ده نظم و ضبط زمه دار وی.
2) ده ریجن مشران به ده فایلونو ده سربراهانو نه ده چندی جمع کولو زمه دار وی.
3) ده ریجن مشران به په ریجن کی پیښه شوی حادثی تفتیش او تحقیق کوی او مرکزی حادثاتی تفتیشی کمیټی مشرانو ته به یی وړاندی کوی.

## فایلونه

### فایل:

ده جرګه قومی اتحاد رکنیتی نظام ده ډلو (فایلونو) په شکل کی قائم دی؛ ده هر فایل به مخصوص سربراهان وی کوم چی به په دغه فایل کی موجود ارکانو ده امورو زمه دار وی.

### ده فایل مشران:

ده فایل ده پاره به یو سربراه لازم وی او ده فایل مشر اختیار لری چی په خپل فایل کی ده موجود ارکانو نه 1 رکن ده فایل قائم مقام سربراه منتخب کړی.

### ده فایل ده مشر زمه داریانی:

1) ده فایل ده سربراه ده پاره به ده واټس آپ ساتل لازمی وی، ده فایل جمع کیدو نه پس به فورا سربراه ده جرګه قومی اتحاد په مرکزی ګروپ کی ایډ کیګی او ورسره به یی ده ریجن مشران ده ریجن په ګروپ کی ایډ کوی.
2) ده فایل سربراه به ده چندی ده اعلان په صورت کی په خپل فایل کی موجود ممبرانو نه چنده جمع کوی او ده ریجن مشرانو ته به یی حواله کوی.
3) ده فایل سربراه به په خپل فایل کی موجود ممبران په نظر کی ساتی که یو ممبر ده جرګه قومی اتحاد نه ریمو کیدل غواړی فورا به یی نوم او سیریل نمبر او وائس میسج په کوم کی چی هغه ده ریمو کیدو اقرار کوی هغه به یی ده ریجن په ګروپ کی شیر کوی؛ چی دغه ممبر ریمو کړی شي.
4) په داسی صورت کی چی ده چندی اعلان اوشی او ده فایل یو ممبر ده چندی ورکولو نه انکار اوکی په دغه صورت کی به ده پایل سربراه ده دغه ممبر چنده ده جیب نه ورکوی.
5) ده فایل مشر به خپل فایل نظر ساتی که یو ممبر په چټی یا په نهائی لاړ شی ده هغه ممبر نوم او سیریل نمبر او ده ټیکټ تصویر به ده ریجن په ګروپ کی شیر کوی.
6) په داسی صورت کی چی ده چندی اعلان اوشی او په داسی ممبر پسی چنده راشی کوم چی په چټی وی خو ده فایل سربراه ده ریجن په ګروپ دغه ممبر په چټی درج کولو ده پاره شیر کړی نه وی په دغه صورت کی به ده فایل سربراه دغه چنده ده خپل جیب نه ورکوی.

## فایلونه

### ده فایل درج کولو طریقه کار:

نوی فایل درج کول به ده ریجن ده مشرانو په اختیار کی وی، نوی فایل به ده ریجن ده طرف نه مرکز ته ده رسمی متعارف فارم (رجسټریشن فارم) په شکل کی وړاندی کیږی؛ ده رجسټریشن فارم تاسو ده https://www.jarga.pk/registration نه ترلاسه کولی شی.

### ده فایل درج کولو شرائط:

1) ده نوی فایل درج کولو په صورت کی به په فایل کی ده 10 ممبرانو تعداد شرط وی.
2) چی په فایل کی درج ممبران ده جرگه قومی اتحاد ده رکنیتی شرائطو پابند وی.
3) چی ده فایل مشر ده جرگه قومی اتحاد ده رکنیتی نظام مطابق ده ممبرانو نه اینټری فیس جمع کړی وی او ده ریجن مشر ته یی وصول کړی وی.

## مالي نظم و ظبط

### چنده:

ده ضرورت مطابق به ده جرگه قومی اتحاد ده مرکزی مشرانو ده طرف نه ده چندی اعلان کیګی ، ده دغه اعلان نه پس به ده چندی ریپورټ جاری کیګی په کوم کی چی به ده هر فایل او بیا ده هر ریجن چنده موجود وی؛ دغه چنده به ده مشرانو ده وینا مطابق په ورکړی شوی وخت کی دننه ده ریجن فاینانس زمه دارانو ته جمع کیګی.

#### ده چندی تاخیر کولو جرمانه:

که ده سه وجوهاتو په بنیاد ده فایل مشر ده خپل فایل چنده په ورکړی شوی وخت کی دننه جمع نه کړی په دغه صورت کی به فایل 500 ریاله جرمانه وی؛ دغه جرمانه او ورسره ده خپل فایل چنده به په 7 ورزو کی دننه جمع کوی که په 7 ورزو کی یی جرمانه او چنده جمع نه کړه نو دغه ټول فایل به ده جرگه قومی اتحاد نه ریمو کیګی.

#### ده چندی فرقونه:

که ده فایل سربراه یو ممبر په چټی یا په نهائی یا ریمو کولو ده پاره ده ریجن گروپ کی شیر کړی وی خو هغه ممبر په په فایل کی نه وی درج شوی په دغه صورت کی به ده فایل سربراه ده دغه ممبر چنده نه جمع کوی او دغه فرق به ده ریجن په ډیټیل کی درج کیګی؛ بشرط چی ده فایل مشر په گروپ کی کړی میسجونه او ثبوتونه ده ریجن مشرانو ته وړاندی کی.

#### ده چندی ډیټیل:

ده نوی چندی اعلان کولو په صورت کی به مرکزی مشران یو مشتمل ډیټیل جاری کوی په کوم کی چی به په تیره چنده کی کلیر شوی حادثاتو او فرقونو او ده موجوده یا باقی پنډ وضاحت وی.

### رکنیتی فیس (اینټری فیس) :

ده جرگه قومی اتحاد ده مرکز ده طرف نه به ده اینټری فیس جمع کولو اعلان او ډیټیل جاری کیګی، او ده ریجن مشران به ده مرکز ده طرف نه جاری شوی طریقه کار په ترو دغه رکنیتی فیس مرکز ته جمع کوی؛ ده اینټری فیس ده جمع کولو ده اعلان نه پس به ده ریجنونو مشران اینټری فیس په 7 ورزو کی دننه مرکز ته جمع کوی.

#### ده رکنیتی فیس فرقونه:

ده جرگه قومی اتحاد ده رکنیتی او فایلونو نظام تحت به په اینټری فیس کی سه قسمه فرق نا قابل قبول وی؛ که یو ممبر ایډ شی او 2 ورزی پس ریمو شی ده دغه ممبر اینټری فیس به په ډیټیل کی موجود وی او ده فایل سربراه به ده هغی ده جمع کولو پابند وی.

## مالي نظم و ظبط

### مالي مرکز:

جرگه قومی اتحاد سه قسم له ده بینک اکاونټ نه لری؛ ده جرگه قومی اتحاد فنډ یو مرکز نه لری؛ ده جرگه قومی اتحاد فنډ په مختلف ریجنونو کی ده مختلف با اعتباره مشرانو سره موجود وی.

### ده حق ضياع:

په داسی صورت کی چی ده یو مشر نه ده جرگه قومی اتحاد حق ضایع شی یا ولوټل شی یا تری اوسوزی یا تری ورک شی وغیره، په دغه صورت کی به دغه مشر فورا مرکزی مشران خبروی، مرکزی مشران به په 7 ورزو کی دننه ده دغه مشر نه ده دغه حادثی په تصدیق کی په قرآن حلف اخلی او دغه حلف به ده جرگه قومی اتحاد ده واټس آپ په گروپونو کی ده جرگه قومی اتحاد ده تمام ممبرانو او مشرانو وړاندی ده ویډیو په شکل کی گدی؛ یو رکن یا یو مشر ته به هم ده دغه حلف ده دغه ویډیو ده جرگه قومی اتحاد ده گروپونو نه باهر ته ده وړو اجازت نه وی؛ که چرته ده یو مشر نه ده جرگه قومی اتحاد حق ضایع شو او هغه په قرآن حلف اخیستلو نه انکار اوکو په دغه صورت کی به ده جرگه قومی اتحاد ده مرکز ده طرف نه توضیحی بیان جاری کیگی په کوم کی چی به ده دغه حادثی تفصیل وی او ورسره ده دغه مشر کامل نوم سره ده خیل او خاندان ، تصویر ، پته ، موبایل نمبر ، شناختی کارډ نمبر شامل وی او دغه بیان به ده جرگه قومی اتحاد ده سوشل میډیا ده اکاونټونو نه نشر کیگی او دغه مشر به پورا ده خپلی عهدی او جرگه قومی اتحاد ده رکنیت نه فارغ کیگی.

## إداري نظم و ضبط

### إداري زمه دار:

اوس چونکی ده سعودی عرب په ښاوره جرگه قومی اتحاد (5,000) ممبران لري، او دا تعداد ورځ تربله اضافه کیګي،

لهذا مشرانوو ده فیصلی مطابق ده جرگه قومي اتحاد ده کار او پروگرام دپاره یو زمه دار کس مقرر کړی شوو، هغه کس زمونگ یو کشر حجة الله خان دی چونکی حجة الله خان ده جرگه قومی اتحاد دپاره ډیر وخت ورکوي او جرگه قومي اتحاد يئ په ډیر جدید طرز پرمختگ طرف ته روان کړی، لهذا مشرانوو ده هغی په حقله دا فیصله وکړه، چی حجة الله خان له به ده میاشتی په سطح به تنخواه مقرر شئ،

هغه به ده شروع نه (3,500 ریال ) وي، په دی به ده جرگه قومی اتحاد ده ممبرانوو او کار زیاتیدو سره نظرثاني کیګي، دا تنخواه به ده 1 دسمبر 2022 نه واجب آدا وي..

### نوټیفیکیشن:

ده جرگه قومی اتحاد ده ممبرانو او مشرانو ده خبرتیا ده پاره به ده مرکزی مشرانو ده طرف نه او ده سپریم کونسل ده طرف نه ده نوټیفیکیشن زریعه استعمالیږی، تمام ممبران او مشران به ده مرکز یا ده سپریم کونسل ده طرف نه جاری شوی نوټیفیکیشن کی نشر شوی نظم و ظبط او احکام تابع وی؛ نوټیفیکیشن به ده لنډ مهاله نظم و ظبط باره کی وی.

## حادثاتي نظم و ضبط

### ده حادثی ده جمع کولو طریقه کار:

که چرته یو ممبر ته حادثه پیخه شی نو هغه به ده خپل فایل سربراه خبروي ده فایل سربراه به ده دغه خبری زمه دار وی چی دغه حادثه ده ثبوتونه سره ده ریجن مشرانو ته وراندی کی ده ریجن مشران به په دغه حادثه نظر اچوی او تفتیش به یی کوی که چرته دغه ممبر په حقیقت کی ده جرګه قومی اتحاد ده منشور تحت حقدار وی نو ده ریجن مشران به دغه حادثه سره ده ثبوتونو مرکزی مشرانو ته وراندی کوی؛ مرکزی مشران به په دغه حادثی حتمی فیصله کوی او ده مرکز ده حتمی فیصلی نه پس به دغه ممبر ته ده ریجن مشران حق حواله کوی, که ده فایل په مشر دوکه ثبوت شوه, او په دوکه سره یی ده ممبر کیس جرګی ته راوړی وو نو په دغه صورت کی به ده متعلقه فایل سربراه نه ده جرمانی په صورت کې ده هغی کیس رقم وصول کیږی, او بیا به یی پایل ده جرګی نه خارج کیږی.

## منشور

### ده منشور تعریف:

ده کاروان ده تمام امورو ده نظم وظبط قاعده.

### ده منشور حیثیت:

ده جرګه قومی اتحاد تمام مشران او ارکان به ده منشور تابع وی.

### ده منشور نسخات:

ده جرګه قومی اتحاد منشور او تمام ورقی او مستندی نظام په نسخاتی نمبر قائم دی؛ لازم چی ده منشور یا نورو فارمونو ده استعمال په وخت کی ده نسخی ده نمبر خیال اوساتل شی، په تمام صورتونو کی به نوی نسخه کار آمد وی؛ مثال په توګه په زوړ منشور به فیصله نه کیګی ده منشور په نوی او آخري نسخه به ده تمام امورو نظم و ظبط قائم وی؛ تاسو کولی شی چی ده https://www.jarga.pk/manshoor نه ده منشور نوی او اخري نسخه حاصله کړی.

### ده منشور خلاف ورزی:

په داسی صورت کی چی یو فرد ده منشور خلاف ورزی اوکړی که هغه یو رکن وی او که مشر په دغه صورت کی به سپریم کونسل په 3 ورزو کی دننه دغه فرد ته سزا اوروی دغه سزا به یا مالی وی یا به ده جرګه قومی اتحاد نه ده ریمو کولو وی.

### ده منشور ترمیم:

ده منشور ده ترمیم ده پاره به ده رکن یا ده یو مشر ده طرف نه درخواست جمع کیګی، که درخواست کوونکی یو رکن وو نو درخواست به مرکزی مشرانو ته جمع کوی ، او که درخواست کوونکی یو مشر وو نو درخواست به ده سپریم کونسل مشرانو ته جمع کوی؛ ده درخواست جمع کولو نه پس به ده سپریم کونسل مشران او ورسره مرکزی مشران په دغه درخواست نظر اچوی؛ که په 7 ورزو کی دننه 50% مرکزی مشران او 50% ده سپریم کونسل مشران په دغه درخواست متفق شول نو په دغه صورت کی به دوی ده دغه درخواست ده قبول کولو اعلان کوی او په منشور کی به دغه ترمیم کوی او ده نوی منشور اعلان به کوی؛ که په 7 ورزو کی دننه په دغه ډول مشران متفق نه شول په دغه صورت کی به دغه درخواست مسترد وی.

### ده ترمیم شرائط:

ده سپریم کونسل مشران او مرکزی مشران به په منشور کی ده ترمیم کولو په صورت کی ده دغه شرائطو پابند وی:

1) چی په ترمیم کولو کی یی الله عزوجل ته غاړه آزاده وی؛ سه قسمه قوم پرستی یا شخصی مفاد یا نا انصافی پکی شامل نه وی.
2) چی ترمیم ده منشور ده (منشور) په بند کی نه وی.


## باني

### ده جرګه قومی اتحاد باني:

قدرمندو مشرانوو نن چی ده ټول سعودی عرب په سطح ده خدمت دا کومه لړي پیل ده  ده دی په شاه ده مشرانوو محنت او اتفاق او ده مسافر ده خدمت دپاره وخت ورکول کار فرماء دي په دی خدمت کي یو ستر نوم زمونګ ده جرګه قومی اتحاد ده باني محمداقبال خان دی لهذا ده مرکزي مشرانوو په مشاورت یو فیصله وشوه، چی محترم محمداقبال صاحب يئ ده جرګه قومی اتحاد قائد وګرزه وو، او بحیثیت ده باني به ده جرګه قومی اتحاد نه دوي ته سه مراعات ترلاسه کيګي:

1) په جرګه قومی اتحاد کي چی کومي تمام حادثی دي هغه به دوي ته ده سعودی عرب او بیا په پاکستان کي هم تاحیات حاصل وي.
2) دوي چی ترسوو په سعودی عرب کي استوګنه لري نو ده جرګه قومی اتحاد خادم به وي.
3) دوي به ده چندی نه استثناء وي.

## حادثاتی نقشه




مرکزي صدر جرگه قومی اتحاد
محمد اقبال خان
President of Jarga National Unity Org